# د ټاکنیزو شکایاتو د کمیسون، ګډي کمیټې، او ځانګړي محکمې د تصامیمو د تطبیق او د ولسمشریز ټاکنو د وروستنیو پایلو د اعلان لایحه

## اساس

### لومړۍ ماده:

دغه لایحه د ټاکنو د تعدیل شوي قانون د ۱۰۸ مادې د حکم پر بنسټ او د ۱۹ مادې د (۱) فقرې د ۱۱ بند، د ۲۰ مادې د (۳) فقرې، ۳۰، ۸۷، ۸۸، ۹۲ او ۹۳ مادې او د ۹۴ مادې د (۴ او ۵) فقرې د احکامو په پام کې نیولو سره، د ټاکنو د خپلواک کمیسون (له دې وروسته د کمیسون) لخوا وضع شوي ده.

## موخه

### دوهمه ماده:

دغه لایحه د رایې ورکونې او رایې شمیرنې د بهیر، ګډي کمیټې، ځانګړي محکمې او د ولسمشریزو ټاکنو د وروستنیو پایلو د اعلان په اړه د وارد شویو شکایتونو او اعتراضونو په هکله د ټاکنیزو شکایتونو د مرکزي کمیسون (د شکایتونو د مرکزي کمیسون) د وروستني تصمیم د تطبیق ډول او میکانیزم، مشخصوي.

## د شکایتونو د مرکزي کمیسون د تصمیم تطبیق

### دریمه ماده:

(1) د شکایتونو مرکزي کمیسیون، د ټاکنو د لومړنیو پایلو په اړه وارد شوي شکایتونه، له کمیسون سره په لیکلي ډول شریکوي. په دې تصمیم کې، د اسنادو او قانوني دلایلو په ذکر کولو سره له احوالو سره سم، لاندي موارد شامليږي:

1. د ټاکنو د بهیر او لومړنیو پایلو په اړه د وارد شویو شکایتونو او اعتراضونو په هکله د شکایتونو د مرکزي کمیسیون د معتبر پریکړه لیک اصلي نسخه چې د شکایتونو د کمیسون د اکثره ټاکلو غړو په لاسلیک ښکلی شوی.
2. د هغو مرکزونو او محلونو جدول، چې د شکایتونو د کمیسون د پرېکړې پر بنسټ یې رایې باطلي شوي؛
3. د هغو مرکزونو او محلونو جدول، چې د شکایتونو د کمیسون د پرېکړې پر بنسټ په هغو کې د یو یا څو نوماندانو رایې باطلي شوي؛
4. د هغو محلونو د بیا شمیرنې د پایلو فورمې چې، د قانون د احکامو او د کمیسون یا د شکایتونو د کمیسون له مصوبو سره سم، تر بیا شمیرنې لاندې نیول شوي؛
5. د حذف شویو نومونو په مشخصولو سره د نوماندانو د لومړني نوملړ او د نوماندانو په نوملړ او وروستني نوملړ کې د نوي شامل شویو نومونو په اړه تصمیم؛
6. د سرغړونکو نوماندانو نوملړد سرغړونې او د رایې ورکونې د اړوند مرکز او محل د ځانګیړنو له یادولو سره؛
7. نور اسناد او اړین معلومات.

Approval Date: 13,09,2019

دټاکنوخپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

(2) کمیسون د دې مادې په (۱) فقره کې مندرج تصمیم، د څلورمې مادې په (۱) فقره کې د مندرج تصمیم په استثنا، له تصویب څخه وروسته د تطبیق لپاره دارالانشاء ته راجع کوي. دارالانشاء بې له کومې مداخلې او تصرف څخه په سرغړونکو کارکونکو پورې اړوند تصامیم د بشري سرچینو ریاست او په رایو او نوماندانو پورې نور اړوند تصامیم، د معلوماتي ټکنالوژي ریاست او نورو اړونده ریاستونو ته د تطبیق په موخه راجع کوي.

(3) د دارالانشاء ریاست، د کړنو پایله او راپور او د شکایاتو د کمیسون د تصامیمو تطبیق د کمیسون غونډې ته وړاندې کوي.

(4) کمیسون د شکایتونو د کمیسون د پرېکړو تطبیق څاري.

## د شکایتونو د کمیسون د تصامیمو څېړنه

### څلورمه ماده:

(1) د ټاکنیزو شکایتونو او اعتراضونو په هکله د شکایایتونو د مرکزي کمیسون تصمیم، د ټاکنو د تعدیل شوي قانون د ۹۳ مادې د (۱) فقرې د ۱ او ۲ اجزاؤ په استثناء وروستنی ده.

(2) کمیسون د شکایتونو د مرکزي کمیسون تصامیم، د ټاکنو د تعدیل شوي قانون د ۹۳ مادې په(۱) فقره کې د مندرجو مواردو په اړه، دارالانشاء ته له راجع کولو مخکې، تر څېړنې لاندې نیسي.

(3) کمیسون د شکایتونو د مرکزي کمیسون، د تصامیمو دلایل او قانوني اساس تر څېړنې لاندې نیسې.

(4) په هغه صورت کې چې، د شکایتونو د کمیسون دلایل او اسناد مکمل نه وي، کمیسون د دې مادې د (۲) فقرې په اړه، د خپلو څېړنو د تکمیلولو لپاره د اړتیا وړ دلایل او اسناد، رسماً د شکایتونو له مرکزي کمیسون څخه غواړي.

(5) کمیسون د رایو په اکثری سره په دې اړه تصمیم نیسي.

(6) د شکایتونو د مرکزي کمیسون د تصمیم د رد په صورت کې د دې مادې د (۱) فقرې په مندرجه حالاتو کې، کمیسون خپل دلایل او استدلال د شکایتونو د کمیسون د تصمیم د رد په اړه د شکایتونو کمیسون ته په لیکلي ډول استوي.

(7) د اختلاف د حل لپاره، ګډ هیئت تشکیلیږي، چې کمیسون زیات نه زیات درې غړي په ګډ هیئت کې د غړیتوب لپاره ور وپېژني.

(8) ګډ هیئت، له لایحو او له مشترک طرزالعمل سره سم، اختلاف څېړي او په دې برخه کې تصمیم نیسي. دا طرزالعمل د ټاکنو د قانون د ۹۳ او ۱۰۸ مادې د احکامو پر بنسټ، د کمیسون او شکایتونو د کمیسون په وسیله وضعه کیږي.

(9) ګډ هیئت ژر تر ژره او د ټاکنیز تقویم په پام کې نیولو سره، د بحث وړ موضوع په هکله تصمیم نیسي. د ګډ هیئت تصمیم وروستنی ده او په دواړو کمیسونونو لازمه ده چې د هغه متابعت وکړي.

## د موضوع احاله (وړاندې کول) ځانګړي محکمې ته

### پنځمه ماده:

(1) هرکله چې ګډ هیئت، اختلاف رفع نه کړای شي، په دې حالت کې موضوع ځانګړي محکمې ته احاله (وړاندې) کیږي.

(2) ستره محکمه د اختلاف د رفعې په موخه مینځ ته راغلې، له احوالو سره سم په مرکز او ولایتونو کې ځانګړي محکمه جوړوي.

(3) ځانګړي محکمه، د ټاکنیزو تقویم په پام کې نیولو سره، احاله شوي قضیې ژر تر ژره، تر رسېدنې لاندې نیسي.

(4) د ځانګړي محکمې پرېکړه پریکنده او وروستنۍ ده.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

(5) د ځانګړي محکمې د جوړیدو د اړتیا په صورت کې؛ کمیسون او د شکایتونو مرکزي کمیسون له ستري محکمې سره په تفاهم سره، اړونده محکمې ته د موضوګانو د احالي میکانیزم جوړوي.

## د ګډ هیئت او یا د ځانګړي محکمې د پرېکړې تطبیق

**شپږمه ماده:**

کمیسون د ګډې کمیټې او ځانګړي محکمې تصمیم، تصدیقوي او د تطبیق په موخه یې دارالانشاء ته استوي.

## د بیا ځلي ټاکنو تر سره کول

**اوومه ماده:**

(1) هرکله که د رایې ورکوني د یو محل یا محلونو، یا د مرکزونو رایې، په نوملړ کې د شاملو رایې ورکونکو له تعداد څخه د رایې پاڼو د زیاتوالي په دلیل، د کمیسون، ټاکنیزو شکایتونو کمیسون، ګډ هیئت او یا ځانګړي محکمې لخوا باطلي شي، د ټاکنو کمیسون په هغه محل یا محلونو، مرکز او یا مرکزونو کې، له اړونده تقنیني اسنادو سره سم بیا ځلي ټاکني تر سره کوي.

(2) هرکله که د رایې اچوني د څو محلونو یا مرکزونو رایې په څو بیلابیلو مرحلو کې باطلي شي، د وروستني محل یا مرکز د باطلیدو نېټه، له قانون سره سم په ټولو محلونو او مرکزونو کې د بیا ځلي ټاکنو د تر سره کیدو لپاره په پام کې نیول کیږي.

(3) د رایې پاڼو زیاتوالی چې د دې مادې په (۱) فقره کې درج ده، د ټاکنیزو کارکونکو او د رایې ورکوني د محل یا مرکز د امنیتي مسؤلینو د رایې ورکوني په اثر، د رایو د باطلیدو سبب نه ګرځي.

(4) د دې مادې په (۱) فقره کې د مندرجه ټاکنو د تر سره کیدو په صورت کې، د ټاکنو وروستۍ پایلې تر هغو نه اعلانیږي او نه نشریږي، تر څو چې د هغو محلونو او مرکزونو پایلې نه وي معلومې شوي، چې له نوي سره یې ټاکني تر سره شویدي.

## د ټاکنو د ورستنیو پایلو اعلان

**اتمه ماده:**

(1) د رایې شمیرني له تکمیل او د رایې ورکوني او رایې شمیرني په اړه ټولو اړونده شکایتونو او اعتراضونو ته د شکایتونو د کمیسون په سیله له رسېدني، او د ټاکنیزو شکایتونو د مرکزي کمیسون، د ګډه کمیټې، ځانګړي محکمې لخوا یې تر تطبیق وروسته، کمیسون د ټاکنو وروستۍ پایلې تصدیق، اعلان او نشروي. وروستۍ پایلې، د تغیر وړ نه دي.

(2) وروستنۍ پایلې د کمیسون د پریکړه لیک په وسیله اعلان او نشریږي. هر ډول پایلې او آمار او ارقام چې په نا رسمي ډول نشر او رسنیز کیږي، د کمیسون لخوا د اعتبار او تائید وړ نه دي.

(3) له کمیسون نه غیر هیڅ حقیقي او حقوقي شخص، نه شي کولای چې د ټاکنو پایلې د ټاکنو د وروستیو پایلو تر عنوان لاندې اعلان او نشر کړي. د دې عمل مرتکب سرغړونکی پیژندل کیږي او له قانون سره سم چلند ورسره کیږي.

## علني (ښکاره) غونډې

**نهمه ماده:**

(1) د ټاکنو وروستۍ پایلې، د علني غونډې په ترڅ کې، د کمیسون په مرکزي دفتر کې اعلانیږي.

(2) د څارونکو، کتونکو او د ټولیزو رسنیو د راپور ورکونکو حضور (شتون)، د کمیسون د علني غونډو د ګډون په لایحه کې تنظمیږي.

(3) د کمیسون په علني غونډو کې د ټولیزو رسنیو شتون او نه شتون، د ټاکنو د قانون د شلمې مادې د (۳) فقرې د حکم تابع ده.

## د ټاکنیزې وثیقې صدور

### لسمه ماده:

(1) د ټاکنو د ورستنیو پایلو تر اعلان وروسته، کمیسون د وړونکي نوماند لپاره، ټاکنیزه وثیقه صادروي. ټاکنیزه وثیقه هغه سند ده چې په ټاکنو کې د نوماند د بریالیتوب تصدیق کوي.

(2) ټاکنیزه وثیقه د ټاکنیزې څوکۍ د یوې کاري دورې لپاره اعتبار لري، او بل شخص ته د لېږد وړ نده.

(3) په ټاکنیزه وثیقه کې کم تر کمه لاندې موضوع ګانې شاملې دي:

1. د کمیسون او د ټاکنو لوګو؛
2. د وثیقې شمیره او د ثبت نېټه؛
3. د وړونکي نوماند پیژندګلوي؛
4. د نوماندې شمیره؛
5. د ټاکنو ډول او ټاکنیزه حوزه؛
6. د کسب کړو رایو تعداد؛
7. د کمیسون د رئیس د لاسلیک ځای؛
8. د کمیسون ټاپه.

## له قوانینو سره مطابقت

### یولسمه ماده:

د دغې لایحې هیڅ حکم، د نافذو قوانینو له احکامو سره په مغایرت کې تعبیر او تفسیری کیدلای نه شي. د مغایرت په صورت کې د اړونده قوانینو احکام د اجراء وړ دي.

## انفاذ

### دولسمه ماده:

دغه لایحه، د تصویب له نیټې څخه نافذه او نشریږي.